NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# په افغانستان کی د ټاکنو وروستنی معلومات

د زیاتو معلوماتو لپاره:
حاتم با مهریز
په افغانستان کی د ان. ډی. آی
عمومی ریس
+93 (0)796073459
hbamehriz@ndi.org

**د افغانستان د ولسی جرگی ټاکنی په ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۰ د نومبر ۳۰ نیټه ۲۰۱۰ کال: له ټاکنو څخه ۷۳ ورځې وروسته**

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرگی د ټاکنو له بهیر څخه د څارنی په موخه څارنیز ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیړونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح گمارل شوی دی د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شی: .AfghanistanElectionData.orgدی

## د روانو ناندرو په ترڅ کښې د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنو وروستۍ پایلي خپري کړی

وروسته ددی چي د ټاکنو وروستۍ پایلی تقریبا یوه میاشت دپلان څخه اعلان شوی قانوني ننګوني، سیاسی فشارونه او تخنیکي ستونزی د نوي پارلمان جوړښت ځنډوي.

په ۲۴ د نومبر د ټاکنو خپلواک کمیسون پرته دغزنی اودکوچیانو د ټاکنیزو حوزو دهیواد د ټولو ټاکنیزوحوزو پایلي خپری کړی. ددی ورځی په دوام سره، لوی څارنوالۍ ددی اعلان وکړ چی دوی به د ټاکنو د خپلواک کمیسون او دشکایاتونو د کمیسون دکارکونکو په خلاف د توقیف حکم ورکړي ، چی دا قانوني جګړه دنوي پارلمان جوړښت ځنډولي شي. وروسته بیا دلوي څارنوالۍ پلاوي دټاکنوخپلواک کمیسون څخه کتنه وکړه، درایۍ شمیرني دملی مرکز څخه یی معلومات او د هغه کارکوونکو د دوسیو کاپی یی تر لاسه کړي چی دهیواد په کچه یي په ټاکنزیزو پایلو کارکاوه – او ددی څرګندونه یی کړی چی د دټاکنوګڼ انتصابي لوې څارنوالۍ د ټاکنووروستۍ پایلي په څرګنده ډول ننګولي دی، او دایی جوته کړی هغه نوماندان چی په درغلویو او نورو جرمونو ککړدی باید تري څیړني وشي. داسي کړنود نوماندانو او خلکو تر منځ دا ګمان پیدا کړی چی د ولس مشری ماڼۍ دورستیو ټاکنو وړونکو لست څخه خوښ نه بریښي او کیداي شی دټاکنوخپلواک کمسیون ته په فشار راوړلو سره تاکنیزو پایلو ته بله بڼه ورکړی. پاتی برخه ( دویمه پاڼه)

**ان.ډی.ای په ټاکنیز بهیر او سیاسی نهادونو باندی د باور رامنځ ته کولو په موخه،د ټاکنیزو اصلاحاتوغوښتنه کړی.**

د ټاکنود وروستۍ پایلي سره سم د نومبر په ۲۴ نیټه د افغانستان ټاکنیز سیستم ته په پام سره او د ټولو ستونزو چی د درغلیو په نتیجه کی رامینځته شوی دی، ان.ډی.ای یوه بیانیه خپره کړه. د ملی دیموکراتیک انستیتیوت د یو رسمی او پراخه څیړنو لپاره غوښتنه کوی تر څو ټاکنیز سیستم د اصلاحاتو خوا ته راوبولی. د بیاني دپوره لوستلولپاره NDI.org

**د شکایتونو په اړوند دټاکنیزو شکایاتونو کمیسون خپل قضاوت پوره کړو**

**اضافی نوماندان وویستل شول، د باطلورایو ځیني مرکزونه تنظیم شول**

د نومبر په ۲۱ نیټي دټاکنیزو شکایتونو کمیسون اعلان وکړچی دوی د شویو شکایتونه په اړه خپل فیصلی پوره کړی کومو چی د ټاکنوپه شمیره نیزو پایلو غښتلي اغیزي درلودای شوی او اړونده پریکړي یی دټاکنو خپلوا ک کمیسون ته د پلي کولو په موخه ورسپارلي دی. د ټاکنو خپلواک کمیسون ددی واک تر لاسه کړ ترڅو دغه ځنډول شوی وروستۍ پایلي تصدیق کړی،د خلکو، نوماندواو او دولتی چارواکوتر منځ زوړ او شور ددی ښکارندوینه کوله چی د شکایتونو د کمیسون د کړنلاري څخه نا خوښ بریښي.

د شکایتونو کمیسون اعلامیه ددی څرګندوونه کوي چی، دری مهمی برخی چی په هغه کی غښتلي رونټیا کولای شی د ټاکنیز بهیرسره مرسته وکړی او دخلکو تر منځ به باور پیدا کړی

**د نوماندو ویستل:** د نومبر په ۲۱ نیټه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسون د ۲۱ تنو نوماندانو نومونه د لسته وویستل، چی د ټاکنو څخه وروسته او مخکښي ویستل شویو نوماندانو شمیر ۱۱۸ تنو ته رسیږي. دا لا تر اوسه نده جوته شوي چی د ۲۱ تنو نوماندانو په اړه شکایتونه د ټاکنو او رای شمیرني په بهیرکښي راولاړشوي او که وروسته ددی چی دټاکنوخپلواک کمیسیون—— د ۴۱۳ تنو نوماندانو لست چی په درغلیو تورن وو د ټاکنیزو شکایتونو کمیسون ته وروسپاره. د نوموړی کمیسون د ۲۱ نوماندانوویستلو پریکړه په عامه توګه خپره نشوه، او تر اوسه پدی ونه توانديل چی دهر نوماندد د ایستلو په اړوند تفصیلي او ځانګړی معلومات چمتو کړی. ددوی دویستلو په اړه د معلوماتوڅرګندول به وکړاي شي چی رای ورکونکي په دی ډاده کړي چی شوي پریکړی بی طرفه وي.

**باطل شوي رای مرکزونه.** پدی وروستیو کښی د ټاکنیزو شکایتونو کمیسون د باطل شویو رای مرکزونه د ۶۵۰ څخه ۳۴۴ ته تنظیم کړل. دغي تنظیم شوي شمیرد هغو مرکزونو په ویستو اغیزه درلوده کوم چي له مخکښي د ټاکنو دخپلواک کمیسون لخوا باطل اعلان شوي وو او یا هم ترپایه په پایلو کښی نه وو شامل شوي. نوموړي شمیر په ۹۹ رای مرکزونو هم خپلی اغیزي درلودي کومی چی د شکایاتو د ولایتی دفترونو لخوا باطل اعلان شوي وو، خو بیا د ټاکنیزو شکایتونو ملي کمیسون ته د غوښتنو په ترڅ کښی بیرته د اعتبارور وګرځول شوي. په پراخه توګه د ۳۴۴ رای مرکزونه په اړوند کوم لست خپور نشو، نو دایی ستونځمنه کړه چی ایا د ټاکنیزو شکایتونو پریکړي پلي شوی او کنه. د معلوماتو او رونوالي کمښت دا احساس لا پیاوړي کړ چی سیاسی مداخلي د نا باورو کیدو(باطلولو) په بهیر اغیزه درلوده.


**په عامه توګه د پریکړو خپرونه:** هغه محال چی د ټاکنیزو شکایتونو کمیسون خپلی وروستۍ پریکړي یی د ټاکنو خپلواک کمیسون ته ورسپارلي، یواځي ۴۰ په سلو کښی د A کټګوۍ شکایتونو په پوره ډول دپایلوپه شمیر اغیزه درلوده، چی بیا دټاکنیزوشکایتونو په انټرنټ پاڼه خپاره شول.( د نومبر په ۱۴ نیټي د شکایتونو کمیسون د۲۷۲۴ شکایتونو راپوروکړ چی دA کټګورۍ کښي راتلل). او دشکایاتونوولایتي دفترونو په عامه توګه د پریکړو نه خپرولو ته یی په خپلو دفترونو کښی دوام ورکړ.


د ټاکنیزو شکایتونو کمیسون د انترنیتی پاڼی ته په کتني سره یواځی شپږو ولایتونو د A کټګورۍ پریکړي په عامه توګه څرولي دی. ډیرۍ ولایتونه لکه بغلان، هرات، خوست او کندز چی نتایج یی تر ټولو ډیر دوامدار دی ښایي چی د خپرو شویو او نه خپرو شوو پریکړو تر منځ لوی توپیر موجود دی.د شکایاتو دکمیسون دګڼ شمیر اعلانونو اود رایو د مرکزونو د باطلولو په اړه خبرونو خپرول هره اونۍ بیا هم د پکتیکا او غزني ولایاتو په خپرو شویو پریکړو کښې چی یوه میاشت مخکښي خپري شویي وی کوم توپیر ترسترګو نشو. دنیمروز ولایت په اړه کومه پریکړنیزه خپرونه نه وه، سره ددی چی داسی پریګړی ډیري د پام وړ اغیزي په موکلینو او نوموړي لست درلودای شي یواځی یوه پریکړه یې د کامیابو کاندیدانودویستلو په اړه خپره کړی وه .

# د روانو ناندرو په ترڅ کښې د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنو وروستۍ پایلې خپرې کړې( دلمړی پاڼې په دوام)

او ځیني نوردغزنی ولایت دپایلو ځنډونوني ته هم د شک په سترګه ګوري چي ( تخنیکی ستونزه یی لامل ګڼی )اوداسی انګیري چی دا به دولس مشر ددفتر لخوا شوي وي .غزني، د هغو ولایتونو څخه دی چی دګڼ شمیر قومونو کوربه دی، د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کښې یی ۵ هزاره او ۶ پښتانه نوماندان درلودل چی سږکال یو پښتون نوماند هم شتون نلري. د نا ارامیو او ډار له امله په دغه پښتون میشته سیمو کښې سږکال د خلکو شمیر د ټاکنو په بهیر کښي کم ښکاریدو. چی دغه شمیر بیا په هزاره میشته سیمو کښې ډیر پورته وو، د اکتوبر د ۲۰ نیټي د ټاکنیزو پایلوپر بنسټ د پارلمان ټول ۱۱ سیټونه چی دغزني ولایت برخه وه، هزاره ګانوورته لاره وموندە. د پښتنو نوماندانو پدی ترڅ کښي شکایتونه وکړل چی ددوی موکلین محروم پاتي شوی، اوولس مشرکرزي چی یو پښتون دی په نومونړی ولایات کښی دبیا ځلي ټاکنو غږپورته کړو

سره ددی چی د افغانستان د اساسي قانون د ۶۱ مادي پر اساس دټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنو د اداره کولو(نظارت) واک لری خوافغان حکومت د نوموړي کمیسون پریکړي ننګوي.د لومړنیو پایلو پر بنسټ دټاکنو خپلواک کمیسون ۱.۳ میلیونه رای باطلي کړي. دټاکنود شکایتونو کمیسون د څیړنو څخه وروسته،۲۶ نوماندان هغه محال دلست څخه وویستل چی نوموړي ددرغلیو په تور اودکمیسوننونو د شرایطو سره د نه سموالي په اړه تورن وبلل شول. لوی څارنوال محمد عاشق الکوویلي چی: د ټاکنودکمیسون کارکونکو څخه په درغلیو کښی لاس لرولو په اړه څیړني رواني دی. د نوموړي دفتر، ددواړو کمیسونونو( د ټاکنود خپلواک کمیسون اودټاکنیزوشکایتونوکمیسون) څخه دوو دوو کارکونکو چی دویاندانو په شمول دی، د پوښتنو غوښتنه کړي. د بیاني دغوښتنو با وجود، دټاکنیزو شکایاتونو کمیسون د شخړو په اړه د عمومي بیاني په ورکولوکښې پاتي راغلی دی






*په کینړ اړخ کې دغه نقشه د غزني ولایت د ولسوالی په کچه (په سور رنګ) د رایو د مرکزونو ، تړل شوو مرکزونو او د باطل شوو مرکزونو تخصیص ښایی او شین رنګ د همدی تخصیص مقایسوی حالت ښیی. ډیرو هزاره نشینو ولسوالیو کی یوازی څو د رایو مرکزونه تړل او یا باطل ګرزول شوی وو. کینړ خوا لری پرته نقشه د لمړنیو قانوني رایو استعمال د ولسوالیو په کچه ښایی، او یو لوی توپیر د هزاره نشینو ولسوالیو (شین رنګ) او د پښتون نشینو ولسوالیو (سور رنګ) په جنوب او غرب حوزو کی تر سترګو کیږی . منبع:*

*IEC preliminary results,*

*Oct. 20; IEC-provided list of planned stations, Aug. 29*


## دټاکنیزوشکایتونو کمیسون دپریکړو په خپرولو کښې پاتی راغي(د لمړي پاڼي به دوام)

د شکایاتو کیمسون ددی تصریح کوي چی دوی به نوموړي کمیسون پریکړي په ویب پاڼي خپاره کړی،سره له دی چی په ویب پاڼه کی وروستی نیټه نه وه ذکر شوی.

د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون د رایو د شمیرلو او د شکایاتو د پروسی په وینا، د ولایتی شکایاتو دفتر باید نهایی پریکړی په داسی ځای کی چی د دوی له دفتر څخه د باندی وی د پنځو ورځو لپاره وځړوی. له دی نه علاوه، د ولایتی شکایاتو دفتر وایي چی دوی ته لاربښوونه شوی چی رسنیو ته د پریکړو په هکله معلومات ورنکړی ځکه چی ټول معلومات باید د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون لخوا اعلان شی.

دا شان شکایتونه په دوامدار شکل د نوماندانو او د ولایتی شکایاتو دفتر لخوا د ان.دی.آی دفتر ته شوی دی. ان.دی.آی همدارنګه نوټ کړی چی د دریو برخو څخه یوازی لږ تر یوی برخی مخکی له ټاکنو پریکړی د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون په ویب پاڼه کی نشر شوی دی.

دا پریکړی په بیلابیل ډولونه یا جوړښتونو او د شکایاتو د نمبرونو په اساس په ویب پاڼه کی راغلی چی څوک نشی کولای په اسانی د اړتیا وړ پریکړه ترلاسه کړی. د مکمل لیکل شوی پریکړو په خپل وخت او په تفصیل په یب پاڼه باندی خپرولو سره به د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون به د دی پروسی د روڼتیا پخلی کړی وو. همداراز دی پروسی به د درخواست کولو یوه موثره لاره خلاصه کړی وه (نوماندان او د ټاکندویانو ته به په یوه کچه معلومات ورکول کیدل) او په کافی




ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سیمنارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.